# تصوفي اصطلاحات:(Terms)

شپږم لیکچر:
(6th Lecture)

- **اعیان ثابته**: د هنداري مانا ورکوي او په خپلو اعمالو کښې د خپل ځان مطالعه کول دي.
- **پیمانه**: د صوفیانو په وینا د صوف زړه ته ویل کیږي.
- **پیر**: لارښود ته ویل کیږي.
- **خمار**: هغه حالت ته ویل کیږي چي د سالک په زړه کښې د خدای پاک د مینې جذبه پیدا شي.
- **اهل خرابات**: صوفیانو او عارفانو ته ویل کیږي.

# تصوفي اصطلاحات:(Terms)

- **صحو او سکر :** صحو په هوښ راتلو، او سکر مستي ته وايي. صحوه له خونده ډکه وي، چي سالک پکښې له ډېره خونده بې هوښه یا بېخوده او مسکور شي، چي دا بیا سکر دی.

- **جمالیه صفتونه :** دا د خدای پاک له رحمته ډک صفتونه دي، لکه رحمان، روف، رازق، غفار او نور...

- **جلالیه صفات**: دا د الله پاک قهریه صفات دي، لکه قهار، جبار او داسي نور...

# تصوفي اصطلاحات:(Terms)

- فراق: د وحدت له مقامه د سالک لرې کېدو ته وايي.
- فنا او بقا: فنا له ناوړه صفاتو پاکېدو او بقا د غوره صفاتو تر لاسي ته وايي.
- رجا: له خپل محبوب سره نږدېوالی او قلبي اړيکي.
- مراقبه: داسې ګڼل، چې الله زموږ له زړونو خبر دی.
- ورع: له نفس سره همېشنی مبارزه کول.

# تصوفي اصطلاحات:(Terms)

- **واصل:** حق ته رسېدلی، له حق سره یو ځای شوی.
- **مرید:** په حق پوري زړه تړل.
- **وجدان:** هغه حالت ته وائي چي تر ذکر وروسته د انسان په زړه کښې رامنځته کېږي.
- **فیض مقدس:** سپېڅلې ښېګڼه: د سالک په زړه کښې د حق رڼا ته وائي.
- **شریعت:** د مذهب ظاهري خوا، لکه د اسلام پنځه بناوي (ارکان)
- **طریقت:** حقیقت ته د ورتللو شېوه (لاره)، یا تصوفي پوهه

# تصوفي اصطلاحات:(Terms)

- ❖ لېونتوب: د رېښتینو عاشقانو صفت دی، چې اعمال يې پکښې ښکاري.
- ❖ مې فروش: کامل مرشد او پیر ته ویل کیږي.
- ❖ مکاشفه: له حق سره پیوستون ته وايي.
- ❖ مست: هغه کسان چې د سکر په حالت کښې وي یا د حق په مینه مست.
- ❖ نفس: د دم یا سا په مانا دی.

# تصوفي اصطلاحات:(Terms)

- **مشاهده:** په اشیاوو (شیانو) کښې د حق لیدنه کول یا مشاهه کول:

لکه خوشحال خټک چي وائي:

په هر څه کښې ننداره د هغه مخ کړم
چي له ډېرې پیدایي نه ناپدید شو

- **تسلیم:** د خدای د خوښۍ (رضا) لپاره له ربړو او کړاوونو سره مبارزه ده.

- **ابد او ازل:** په تصوف کښې بې پایه او بې پیله اغاز او شروع ته وایي.

# تصوفي اصطلاحات:(Terms)

- مخ: بې د پاک الله له مخه له نورو مخونو څخه مخ اړول
- حقیقت: د تصوف یو پړاو د حق د لیدلو لارې چارې
- صورت الا الله: کامل انسان
- هوښیاري: د باطني او بیروني صفاتو له اغیزو ځان ساتلو ته وایي.
- صبر: د کړاوونو او غم زغمل
- ویسا (یقین): د حق پر ذات باور کول